# د نیکمرغه کوچني اختر په مناسبت د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبة الله اخند زاده حفظه الله تعالی...

بسم الله الرحمن الرحيم
الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونتوب إليه ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له ومن يضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له وأشهد أن محمدا عبده ورسوله.
د افغانستان مؤمنو او مجاهدو خلکو او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته!
السلام عليكم ورحمة الله وبركاته
د نیکمرغه کوچني اختر د را رسېدو په مناسبت ټولو افغانانو ورونو او د نړۍ مسلمانانو ته د زړه له کومې مبارکي وایم.
الله تعالی مو روژې، تراویح، صدقې او نور عبادات او خدمتونه قبول او منظور وګرځوه. آمین یارب العلمین
محترمو ورونو! د روژې میاشت د الله جل جلاله لخوا د مسلمانانو د پاکولو او تزکیې، پر عبادت عادت کولو او د تقوی خوا ته د تشویقولو یوه ستره میاشت وه، هر مسلمان چې دا روژه د خپلو لازمو شرائطو سره نیولې وي، نو امید دی چې الله تعالی به مغفرت ورته کړی وي او له ګناهونو څخه به یې پاک کړی وي. ان شاءالله تعالی
اوس دا لازمه ده چې مسلمانان تقوا خپل عادت وګرځوي، د الله جل جلاله له نافرمانۍ څخه ځان وساتي، له کبائرو څخه اجتناب وکړي او پر صغائرو اصرار ونه کړي، همدا د کامیابۍ لاره ده او همدا د انسان د ژوند مقصود او د الله تعالی رښتینې بندګي ده.
الله تعالی فرمایلي دي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ. سورة البقرة اية ﴿۱۸۳﴾
ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو!) فرض کړی شوې ده، پر تاسې باندې روژه؛ لکه چې فرض کړی شوې وه، په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو، (لکه پخواني امتونه، او پیغمبران علی نبینا و علیهم السلام) لپاره د دې چې تاسې ځان وساتئ!
همدا ډول الله تعالی بل ځای په قرآن کریم کې فرمایلي دي: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنْزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ... سورة البقرة آية ﴿۱۸۵﴾
ترجمه: میاشت د روژې هغه میاشت ده، چې نازل کړی شوی دی، په دې کې، قرآن چې هدایت دی لپاره د خلکو او دلیلونه دي ښکاره (له جنسه د هغو شیانو) چې هغه لاره ښیي او بېلوونکي د حق او باطل دي، نو هرڅوک چې ومومي له تاسې (ای مکلفینو) دا میاشت، نو ضرور دې روژه ونیسي د هغې (میاشتې).
همدارنګه په حدیث شریف کې راغلي دي:
من صام رمضان إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه. ومن قام رمضان إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه. ومن قام ليلة القدر إيمانا واحتسابا غفر له ما تقدم من ذنبه متَّفق عليه.
ترجمه: څوک چې د ایمان له مخې او د ثواب په نیت سره روژه ونیسي، د هغه مخکښې ګناهونه بښل کېږي او څوک چې د ایمان له مخې او د ثواب په نیت سره د رمضان شپه ودرېږي (تراویح وکړي)، د هغه مخکیني ګناهونه بخښل کېږي او څوک چې د ایمان له مخې او د ثواب په نیت د قدر په شپه ودرېږي(عبادت وکړي) د هغه مخکېني ګناهونه بخښل کېږي.
مسلمانانو ورونو! راځئ له الله تعالی سره خپل تعهد تجدید او محکم کړو، چې د الله تعالی نا فرماني او د شیطان پیروي به نه کوو، د الله جل جلاله شریعت ته به غاړه ږدو او الله تعالی د صالحو او ښو بندګانو په څېر به ژوند کوو.
که د الله تعالی په نعمتونو کې فکر وکړو، نو خپله به هم فیصله کوو چې موږ باید نور د الله تعالی د نافرمانه بندګانو په جمله کې نه شو او نه به پر هغه لاره ځو چې الله جل جلاله پرې ناراضه کېږي، پر خپل نفس به پښه ږدو او د شیطان او د هغه د ملګرو لاره به پرېږدو او هغه به د خپل دښمن پیروي ګڼو، همدا ریښتونی نجات دی. الله تعالی دې موږ او ټولو مسلمانانو ته د ښې تقوا او ښې بندګۍ توفیق راکړي. آمین
لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: إِنَّ الشَّيْطَانَ لَكُمْ عَدُوٌّ فَاتَّخِذُوهُ عَدُوًّا إِنَّمَا يَدْعُو حِزْبَهُ لِيَكُونُوا مِنْ أَصْحَابِ السَّعِيرِ. سورة الفاطر اية ﴿۶﴾
ترجمه: بې شکه چې شیطان ستاسې دښمن دی پس تاسې هم ونیسئ دی (خپل) دښمن بې شکه چې هم دا خبره ده چې بولي شیطان ډله خپله (ځای د هلاک ته) لپاره د دې چې شي دوی له ملګرو د دوزخ (په آخرت کښې). [کابلی تفسیر]
محترمو مسلمانانو ورونو! اختر د مسلمانانو د خوشحالۍ، یوځای کېدو، یو بل سره د نېک سلوک او عبادت او دعاګانو ورځ ده.
عن أنس قال: قدم النبي صلى الله عليه وسلم المدينة ولهم يومان يلعبون فيهما فقال: "ما هذان اليومان ؟" قالوا: كنا نلعب فيهما في الجاهلية فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "قد أبدلكم الله بهما خيرا منهما: يوم الأضحى ويوم الفطر". رواه أبو داود
ترجمه: انس رضي الله عنه روایت کوي چې کله رسول الله ﷺ مدینې ته راغی، نو هلته د هغوی(مدینې منورې خلکو لره) دوې ورځې وې چې لوبې به پکښې کولې (د جاهلیت د زمانې اخترونه چې نوروز او مهرجان نومېدل). نو رسول الله ﷺ وفرمایل: "الله تعالی تاسو ته د دې دواړو ورځو پر ځای غوره ورځې درکړې دي: د قربانۍ ورځ (د لوی اختر ورځ) او د فطر ورځ (د کوچني اختر ورځ).
د کوچني اختر په ورځ مسلمانانو ته د تېرې یوې میاشتې د روژې نیولو ثوابونه ورکول کېږي، په دې ورځ الله تعالی له مسلمانانو څخه راضي کېږي او په دې ورځ د الله تعالی یوه لویه فریضه او عبادت بشپړېږي، چې په مناسبت یې مسلمانان خوښۍ کوي او یو بل ته مبارکي ورکوي.
ورونو! دا یو لوی الهی نعمت بولو چې دا ورځ د امن په فضا او خوشحالیو کې لمانځو، یو وخت به په همدې ورځ زموږ د افغانانو جنازې وتلې، په همدې ورځ بمبار راباندې کېده او په همدې ورځ مو کورونه پلټل کېدل او زندانونو ته کشېدلو، خو اوس لله الحمد هغه ورځ په امن او سوکالۍ بدله شوې ده، راځئ ټول یې شکر ادا کړو او له راغلي امنیت، سعادت او خوشحالي څخه ساتنه وکړو او په دې لاره کې ټولو شهیدانو ته دعا وکړو، الله تعالی دې د ټولو سعیې، جهادونه او شهادتونه قبول کړي.
الله‌تعالی فرمایي: لَئِنْ شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ وَلَئِنْ كَفَرْتُمْ إِنَّ عَذَابِي لَشَدِيدٌ. سورة ابراهيم اية ﴿۷﴾
ترجمه: ... قسم دی که چېرې شکر ووېستلو تاسې (په تېرو نعمتونو/ احساناتو زما)، نو خامخا زیات به کړم تاسې ته نعمت، او قسم دی که بې قدري ناشکري وکړه تاسې (د نعمتونو/ احساناتو زما)، نو بې شکه عذاب زما خامخا ډېر سخت دی.
مسلمانانو ورونو!
.مسلمانان د یو بدن حیثیت لري، ټول مسلمانان په درد او غم کې سره شریکان دي.
رسول الله ﷺ فرمایلي دي:
مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ، مَثَلُ الْجَسَدِ، إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ، تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى. صحيح مسلم
ترجمه: مؤمنان د یو بل سره په مینه، مهربانۍ، او شفقت کې د یو بدن مثال لري؛ که د بدن یو اندام درد وکړي، نو ټول بدن ورسره بې خوبه وي او تبه یې وي.
نو د اخترونو اجتماعات او راټولېدل هم موږ ته د اتفاق، وحدت او یو موټي پاتې کېدو پیغام راکوي، موږ ته دا را زده کوي چې موږ باید د نورو مسلمانانو په خوشحالۍ خوښ او پر خفګان یې خفه شو، که د نړۍ په کوم ګوټ کې مسلمانان له ځور، درد او غم سره مخ وي، زموږ او ستاسو مکلفیت دی چې په غم او درد کې ځان ورسره شریک وګڼو.
افغانانو کلونه کلونه په مخالفتونو او جګړو کې تېر کړي، اوس الحمدلله د وحدت او اتفاق ښه فرصت الله تعالی راکړی دی، راځئ له دې فرصت څخه ښه ګټه واخلو، خپل وحدت او یو والی چې د بریا او عزت راز مو دی لا ډېر ټینګ او یقیني کړو، د دښمنانو دسیسو ته متوجه واوسو، له خپل اسلامي نظام او شرعي حاکمیت څخه په هر میدان کې کلکه دفاع وکړو او د همدې نظام تر چتر لاندې افغانان سره راټول وساتو.
لکه چې الله تعالی فرمایي: وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ. سورة الانفال آية ﴿۴۶﴾
ترجمه: او مه کوئ جګړه په خپلو منځونو (په کار د جهاد کښې) پس بې زړه به شئ تاسې او لاړ به شي قوت (د نصرت او د دولت) ستاسې او صبر کوئ (په قتال او سختیو) بېشکه الله له صابرانو سره دی (په جنګ کښې په نصرت او حفاظت).
. الحمدلله چې د الله جل جلاله په نصرت او د اسلامي امارت د مجاهدینو د قربانیو او ستړیاوو په برکت افغانستان امن شو، خلک مو د بل هر وخت په نسبت، په ښه امنیت کې ژوند کوي، باید دا هېره نه کړو چې امنیت یو لوی الهي نعمت دی چې باید له امله یې د الله تعالی دوامداره شکر ادا کړو.
الله تعالی فرمایي: وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّ اجْعَلْ هَذَا بَلَدًا آمِنًا وَارْزُقْ أَهْلَهُ مِنَ الثَّمَرَاتِ مَنْ آمَنَ مِنْهُمْ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ... ۱۲۶﴿ ﴾ سورة البقرة
ترجمه: او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چې ووېل ابراهیم: ای ربه زما! وګرځوه دا ښار (چې کعبه مې په کې ودانه کړېده) ځای د امن. او روزي ورکړه اوسېدونکو ته یې له هر راز میوو نه، هر هغه چا لره چې ایمان یې راوړی دی له دوی څخه په الله او په ورځ آخره باندې (چې د قیامت ورځ ده). [کابلی تفسیر]
حضرت ابراهیم علیه السلام لومړی د مکې مکرمې لپاره د امن دعا وکړه او وروسته یې د هغه ښار آبادي وغوښته، له دې څخه واضح کېږي چې امنیت له نورو نعمتونو څخه مخکې یو مهم الهي نعمت دی.
بله دا چې د خپلو امنیتي ځواکونو او مجاهدینو کلک حمایت او ملاتړ وکړئ، ځکه د مجاهدینو او امنیتي ارګانونو د شپو او ورځو زحمتونو نتیجه ده چې نن په ټول افغانستان کې امن لرو، د دښمنانو دسیسې ختمې شوې دي، خلک مو د شپې او ورځې د وطن هرې برخې ته سفرونه کولای شي، د خلکو سر، مال، عزت او حیثیت خوندي دی، دا ټول باید هېر نه کړو او قدر یې وکړو.
وعن أبي هريرة قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: "من لم يشكر الناس لم يشكر الله". رواه أحمد والترمذي
ترجمه: او حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کوم سړی چې د خلکو شکر نه ادا کوي، هغه د الله جل جلاله شکر هم نه ادا کوي.
.اسلامي امارت ټول محاکم د حنفي فقهې په رڼا کې د شریعت په تطبیق مکلف کړي دي.
الله تعالی فرمایلي دي: وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ... سورة المائده اية ﴿ ۴۹﴾.
ترجمه: او ( ته لېږلی یې موږ او دغه حکم مو فرمایلی دی تاته) چې حکم کوه په منځ د دوی کې په هغه شي چې نازل کړی (لېږلی) دی الله، او مه کوه متابعت د خواهشاتو د دوی، او وېره کوه (ځان ساته) له دوی نه، چې وا نه ړوي، (ونه ګرځوي) تا له ځینې هغه شي څخه چې نازل کړی (لېږلی) دی الله تاته ( ای محمده!). [کابلی تفسیر]
بل ځای الله‌تعالی فرمایلي دي: ثُمَّ جَعَلْنَاكَ عَلَى شَرِيعَةٍ مِنَ الْأَمْرِ فَاتَّبِعْهَا وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ. سورة الجاثية آية ﴿۱۸﴾.
ترجمه: بیا مو وګرځولې ته پر شریعت ارته لیاره له کاره د دین پس متابعت وکړه د هغه او متابعت مه کوه د ارزوګانو د هغه کسانو چې نه پوهېږي دوی(په حقیقت د توحید) [کابلی تفسیر]
په همدې اساس د اسلامي امارت محاکم مکلف دي چې د مطهره شریعت مطابق فیصلې وکړي او د الله تعالی حدود جاري کړي، دا زموږ ستاسو د جهادونو او قربانیو تر ټولو ستر هدف و.
.په افغانستان کې د اسلامي امارت تر سیوري لاندې د امربالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو وزارت د هر ډول فساد د مخنیوي هڅه کوي.
الله تعالی فرمایي: الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ.. سورة الحج آية ﴿۴۱﴾.
ترجمه: (دغه مهاجر مظلومان) هغه کسان دي چې که چېرې قدرت ورکړو موږ دوی ته په ځمکه کښې (په دښمن باندې د غلبې په اعتبار) نو قائموي دوی (سم ادا کوي به سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي به زکوة او امر حکم به کوي (خلکو ته) په معروف (په نېک شرعي کار) سره او منع کوي به (خلک) له بد کار څخه او خاص د الله په اختیار کښې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو. [کابلی تفسیر]
بل ځای الله تعالی فرمایي: كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللهِ... سورة آل عمران آية ﴿۱۱۰﴾.
ترجمه: یې تاسې (ای محمدي امته!) خیر (بهتر د هر هغه) امت چې ایستلي شوي دي، لپاره د خلکو، چې حکم کوئ تاسې (هر چا ته) په معروف (نېکۍ) سره او منع کوئ تاسې (هرڅوک) له منکر (بدۍ) څخه.
د امربالمعروف، نهي عن المنکر او د شکایتونو اورېدلو وزارت محتسبین په خپله سعیه او کوښښ سره د خلکو په اصلاح بوخت دي، چې له امله یې د منکراتو کچه ټیټه شوې ده، او دا د اسلامي نظام یو له سترو اهدافو څخه دی چې په ټولنه کې د هر ډول مفاسدو مخنیوی وشي، کله چې فساد ختم شي، زموږ تاسو ژوند سوکاله، عزت مو خوندي، وقار مو پرځای او خلک مو د اسلام له خوند څخه برخمن کېږي او د الله جل جلاله د رحمت مورد ګرځو. د اسلامي امارت ټول ارګانونه همدا ډول عام خلک مو باید د فساد د محوې او له منځه وړلو لپاره د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او سمع شکایاتو له وزارت سره دوامداره همکاري ولري او ملاتړ یې وکړي، ترڅو له فساد او فتنو څخه پاکه ټولنه ولرو او راتلونکي نسلونه مو د ناسمو عقائدو، ناوړه رواجونو او بد اخلاقیو قرباني نه شي.
د پورته مفاسدو په مخنیوي کې د ټولو علماء کرامو مسئولیت جوړېږي چې د ځوانانو د عقیدو په سمولو او د منکراتو د مخنیوي په برخه کې پوره همکاري وکړي او خپل شرعي مسئولیت ادا کړي، د ناسمو رواجونو اړوند په دې وروستیو کې زموږ صادر شوی فرمان پوره تطبیق کړي او د خلکو پوره پوهاوی وکړي، تر څو له ټولنې مو ناوړه رواجونه ختم شي او د هغو بې ځایه مصارفو او اسرافونو مخنیوی وشي چې له امله زموږ خلک مسافرۍ او مهاجرتونو ته اړ شوي دي.
د اسلامي امارت ټول فرامین، قوانین او په ځانګړې توګه د امر بالمعروف قانون ټولو خلکو ته تشریح کړي او خلک یې و عمل کولو ته وهڅوي.
په دې اړه د اسلامي امارت تعلیمي ادارې هم مکلفیت لري چې په ټولو تعلیمي برخو کې د عقائدو او اعمالو اصلاح ته جدي توجه وکړي او نصابونه دې د شریعت مطابق عیار کړي او د ځوانانو سالمه روزنه دې وکړي.
الله تعالی فرمایي: وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ.. سورة آل عمران آية ﴿۱۸۷﴾.
ترجمه: او (یاد کړه) هغه وخت چې واخیست الله عهد محکم له هغو کسانو څخه چې ورکړی شوی دی دوی ته کتاب چې خامخا به بیانوئ تاسې هرومرو (خامخا) دا (کتاب) خلکو ته او نه به یې پټوئ تاسې نو وغورځاوه دوی دا (کتاب) وروسته له شاؤ خپلو او واپې خیست په (عوض د) دې (کتاب) قیمت لږ. نو بد اخیستل د دوی (دغه اخیستل) دي (یا نو څومره بد دي هغه شی چې دوی یې پېري (اخلي)). [کابلی تفسیر]
.اسلامي امارت د دیني پرمختګونو تر څنګ د وطن د ابادۍ او د خلکو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره د شریعت مطابق خپله هڅه کړې او کوي یې.
الله تعالی فرمایي: فَلْيَعْبُدُوا رَبَّ هَذَا الْبَيْتِ، الَّذِي أَطْعَمَهُمْ مِنْ جُوعٍ وَآمَنَهُمْ مِنْ خَوْفٍ. سورة قريش ﴿۳﴾ او ﴿۴﴾ ایتونه
ترجمه: نو ښایي چې بندګي وکړي دوی رب د دې کوټې (کعبې) ته هغه (رب) چې طعام خواړه یې ورکړي دي دوی ته په لوږې کښې او امن یې ورکړی دی دوی ته له خوف وېرې څخه. [کابلی تفسیر]
نبي صلي الله عليه وسلم فرمایي: إِنْ قَامَتْ السَّاعَةُ وَبِيَدِ أَحَدِكُمْ فَسِيلَةٌ فَإِنْ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَقُومَ حَتَّى يَغْرِسَهَا فَلْيَفْعَلْ (مسند أحمد)
ترجمه: که قیامت هم نږدې وي، او د یو چا په لاس کې د نیالګي د کښېنولو موقع وي، نو باید هغه وکړي، که څه هم قیامت راځي.
بل ځای نبي صلي الله عليه وسلم فرمایلي: خيرالناس من ينفع الناس. كنزالعمال
ترجمه: غوره د خلکو هغه کس دی چې خلکوته ګټه رسوي.
اسلامي امارت کوښښ کړی چې د پرمختګ او بیا رغونې لپاره هر کال سلګونه لوی او واړه انکشافي کارونه تر کار لاندې ونیسي، د ولایاتو ترمنځ لویې لارې اساسي ورغوي، له دنیا سره د تجارت ساحه پراخه او د صادراتو کچه لوړه کړي، تجارت او صنعت ته خاصه توجه وکړي، چې الحمدلله ښه پرمختګونه هم پکې شوي دي، د لویو انکشافي کارونو په پیل، د معادنو په استخراج او تجارانو او صنعتکارانو ته د پراخو ځمکو په وېش سره هڅه کېږي چې د خلکو د بېکارۍ کچه ټیټه او اقتصادي حالت ښه شي، دا ګامونه د اسلامي امارت د اړوندو ارګانونو لا ډېره توجه، اخلاص، هڅې او زحمت غواړي چې باید وې کړي او د خلکو له خوا هم پراخ حمایت او ملاتړ ضروري دی چې باید وې نه سپموي.
خلک مو باید د مغرضو کړیو او استخباراتي سازمانونو په هغو تبلیغاتو باور ونه کړي چې د خلکو د مایوسه کولو کوښښ کوي، یا د فقر او اقتصادي مشکلاتو تشویش خپروي.
الله تعالی فرمایي: الشَّيْطَانُ يَعِدُكُمُ الْفَقْرَ وَيَأْمُرُكُمْ بِالْفَحْشَاءِ وَاللَّهُ يَعِدُكُمْ مَغْفِرَةً مِنْهُ وَفَضْلًا وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ.. سورة البقرة آية ﴿۲۶۸﴾.
ترجمه: شیطان وعده درکوي تاسې ته د خوارۍ ( او وېروي مو چې خوار به شئ) او حکم کوي تاسې ته په (کولو د) ناوړو (غلطو) کارونو، (لکه بخل)، او الله وعده کوي له تاسې سره د مغفرت (د ګناهونو) له خپل (لوري) او د فضل (د انفاق په بدل کې) او الله پراخ دی، (رحمت فضل او احسان د ده) ښه عالم دی (پر ټولو احوالو).[کابلی تفسیر]
او بل ځای الله جل جلاله فرمایي: ...وَإِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ يُغْنِيكُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ إِنْ شَاءَ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ.. سورة التوبة آية ﴿۲۸﴾.
ترجمه: ... او که وېرېږئ تاسو له فقره په (سبب د منع د دوی) نو ژر به غنیان کړي تاسې الله له فضله خپله که اراده وفرمایي (د غنا ستاسې)؛ بېشکه چې الله ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا دی (چې هر کار په تدبیر او مصلحت سره کوي). [کابلی تفسیر]
اسلامي امارت د الله جل جلاله په نصرت سره خپل ټول کوښښ کوي چې ستاسو ژوند ښه شي.
.اسلامي امارت غواړي له اسلامي نړۍ سره د اسلامي اخوت په اساس ټینګې او ښې اړیکې ولري.
الله تعالی فرمایي: إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ... سورة الحجرات آية ﴿۱۰﴾.
ترجمه: بېشکه چې مؤمنان ټول (په دین کې) سره ورونه دي.
همدا راز غواړي له نورو ملکونو سره په اسلامي اصولو ولاړې ښې او ګټورې اړیکې ولري.
له ټولو خواوو څخه غواړو چې د افغانستان د خلکو معتقداتو او ارزښتونو ته درناوی وکړي، زموږ په کورنیو چارو کې مداخله ونه کړي او زموږ د ثبات، امنیت او پرمختګ مانع ونه ګرځي.
.د فلسطین قضیه د ټولې اسلامي نړۍ قضیه ده.
الله تعالی فرمایي: وَمَا لَكُمْ لَا تُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالْمُسْتَضْعَفِينَ مِنَ الرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ وَالْوِلْدَانِ الَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا أَخْرِجْنَا مِنْ هَذِهِ الْقَرْيَةِ الظَّالِمِ أَهْلُهَا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ وَلِيًّا وَاجْعَلْ لَنَا مِنْ لَدُنْكَ نَصِيرًا. سورة النساء آية ﴿۷۵﴾.
ترجمه: او څه مانع ده تاسې ته چې جنګ نه کوئ تاسې په لاره د الله جل جلاله کښې (د دین د ترقۍ لپاره) او په خلاصولو د ضعیفانو کې چې سړي دي، ښځې دي او ماشومان دي، هغه کسان چې وایي دوی، ( ای ربه زموږ!) وباسه موږ له دې کلي (د مکې) څخه، چې ظالمان دي اوسېدونکي د هغې او وګرځوه موږته له خپل درباره کوم ولي (حامي، ساتونکی) او وګرځوه موږته له خپله درباره مددګار!. [کابلی تفسیر]
موږ د فلسطین پر مظلوم او بې دفاع خلکو د صهیونیستي رژیم وحشیانه حملې او بمباردونه په کلکه غندو او دا یو ستر ظلم او وحشت بولو، موږ د فلسطین د خلکو له مشروع غوښتنو څخه ملاتړ کوو او له نورې اسلامي نړۍ څخه هم غواړو چې تر وسه وسه د فلسطینیانو حمایت وکړي، ترڅو هغوی خپل غصب شوي حقوق بېرته تر لاسه کړي، د صهیونیستي رژیم له ظلم او تجاوز څخه خلاص شي او هلته روان وحشت او ظلم پایته ورسېږي.
.داچې د اختر شپې او ورځې د خیر او صدقو ورځې دي، له خپلو ټولو غني وطنوالو څخه غواړو چې خپل بې وزله او غریب خلک له نظره ونه باسي.
الله تعالی فرمایي: وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا. إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لَا نُرِيدُ مِنْكُمْ جَزَاءً وَلَا شُكُورًا. سورة الدهر ﴿۸﴾ او ﴿۹﴾ آیتونه.
ترجمه: او (ابرار) ورکوي طعام خواړه پر محبت مینې د دغه (الله یا طعام) مسکین اړ (مجبور) ته او یتیم ته او اسیر ته.(وایي ابرابر .صالح خلک) بېشکه چې موږ طعام خواړه درکوو تاسې ته خاص د الله تعالی د رضا لپاره (چې ویې وینو او د هغه رضا مو نصیب شي)، نه غواړو موږ له تاسې څخه جزاء، بدل او نه شکر ایستل. [کابلی تفسیر]
نو د خپل توان مطابق له بې وزله مسلمانانو ورونو په ځانګړې ډول د شهیدانو له کورنیو، یتیمانو، کونډو او معیوبینو سره کومک وکړئ، د هغوی د اختر شپې ورځې ور خوشحاله او د هغوی لاسنیوی وکړئ، اسلامي امارت هم د خپلو اړوندو ادارو له لارې کوښښ کوي چې له فقیرانو سره کومک وشي او هغوی ته د خوراک او ژوند انتظام برابر شي.
په پای کې یوځل بیا خپلو ټولو مسلمانانو ورونو ته د کوچني اختر په مناسبت مبارکي وایم، له الله تعالی څخه غواړم چې خوشحاله او له امن ډک اختر ولرئ او د اختر شپې ورځې له خپلو دوستانو او خپلوانو سره په عبادت او خوښۍ کې تېرې کړئ او له تاسو ټولو څخه هیله کوم چې زموږ لپاره په خاص ډول د استقامت او اصلاح دعاګانې وکړئ؛ ځکه د فقهې شریفې په کتابونو کې راغلي دي(و يجب أن يدعى له بالصلاح) ترجمه: او واجب ده چې امیر ته د خیر دعا وشي.
او ټولو مسلمانانو ته په عام ډول دعاګانې وکړئ او د اسلامي امارت ټولو مسئولینو ته د استقامت، صبر، حوصلې، د شریعت د ښه تطبیق او ښه خدمت کولو دعاګانې وکړئ او زه هم تاسو ټولو ته دعا کوم، الله تعالی مو روژې او ټول عبادات قبول کړه. آمین یا رب العلمین.
والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی

د افغانستان اسلامي امارت
د ریاست الوزراء لوړ مقام
د دفتر عمومي ریاست
د عامه او ستراتیژیکو اړیکو معاونیت
د حکومت د اطلاعاتو او رسنیو مرکز




صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰٦۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر امارت اسلامی افغانستان در...

...در این دیدار ابتدا محترم مولوی فضل محمد حقانی سفیر امارت اسلامی افغانستان در ایران صحبت نمود و راجع به کارکردها و فعالیت‌هایش خدمت معاونیت اداری ریاست الوزراء گزارش ارائه کرد.

وی افزود که مسئولین این سفارت جهت گسترش روابط میان این دو کشور در عرصه‌های مختلف، تلاش می‌نمایند که نتایج خوبی نیز در پی داشته است.

محترم مولوی فضل محمد حقانی گفت که با توجه به اینکه تعداد زیادی از افغان‌ها در کشور ایران حضور دارند، خدمات قونسلی در این سفارت فعال بوده و به شهروندان افغان مقیم آن کشور به خوبی خدمات ارائه گردیده و به مشکلات آنان رسیدگی صورت می‌گیرد.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با ابراز خرسندی از این دیدار، فعالیت‌ها و کارکردهای مسئولین سفارت امارت اسلامی افغانستان در جمهوری اسلامی ایران را مورد تقدیر قرار داد.

معاون اداری ریاست الوزراء افزود که افغانستان و ایران دارای روابط دینی، تاریخی، فرهنگی و اقتصادی دیرینه می‌باشند و مسئولین این سفارت باید در تقویت هرچه بیشتر آن کوشش نمایند.

محترم مولوی عبدالسلام حنفی همچنان از مسئولین سفارت افغانستان در ایران خواست تا در ارائهٔ خدمات به افغان‌های مقیم آن کشور بیشتر از پیش تلاش نمایند #

## اختصاص ۷ هزار جریب زمین دولتی برای افغان‌های اخراج‌شده...




...و پاکستان در جوزجان از مسئولان می‌خواهند تا برای‌شان سرپناه فراهم کنند.

از سوی دیگر، یک نهاد کمک‌کننده‌ی خارجی به‌تازگی برای ۹۴۰ خانواده از مهاجران اخراج‌شده از کشورهای همسایه در جوزجان، پول نقد توزیع کرده است.

بر اساس معلومات ریاست مهاجرین و عودت‌کنندگان جوزجان، از سال گذشته تاکنون، بیش از چهار هزار خانواده‌ای که از پاکستان برگشته‌اند، در این ولایت بسر می‌برند.#

## افغانستان د خواف-هرات اوسپني پټلۍ له لارې اروپا ته صادراتي...




...د هرات ولایت مقام د خبرپاڼې له مخې؛ په هرات کې د ایران سرکونسل او د هرات والي په شتون کې اروپا ته د افغانستان د صادراتو لومړنۍ جوپه ولېږدول شوه، چې ورسره د افغانستان، ایران او اروپا ریلي دهلیز پرانیستل شو.

په خبرپاڼه کې راغلي؛ په دې جوپه کې د ۱.۲ میلیون ډالرو په ارزښت ۲۰۰ ټنه پسته، ممیز، بادام او جلغوزي شته، چې د دې ولایت د والي اسلام جار او د ایران د سر قونسل په شتون کې د خواف-هرات اوسپنې پټلۍ له لارې ترکیې او اروپا ته صادرې شوې.

په خبرپاڼه کې زیاته شوې، چې په تېرو درې میاشتو کې له ۳۵ زره ټنو ډېر توکي د خواف-هرات اوسپنې پټلۍ له لارې لېږدول شوي دي.

ویل کیږي، چې د ایران په ملاتړ د دې دهلیز فعالول به د افغانستان اقتصاد ته وده او پراختیا ورکړي.#

## د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د کابل ولایت ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل د چارو...



...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په هېواد کې د ترانسپورټي زېربنا د پراختیا په برخه کې د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل جوړول مهم وبلل او ویې ویل، د ترانسپورټي زېربناوو معیاري رغول او پراخول د یو هېواد د اقتصادي ودې، پرمختګ او د داخلي او سیمه ییز اتصال لپاره ډېر مهم او بنسټیز ګام ګڼل کېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال په خبره، له بده‌مرغه په هېواد کې د لسیزو جګړو او فساد له امله دې مهمې برخې ته پام نه دی شوی؛ بلکې په دې برخه کې شته زېربنا د ټیټ کیفیت له امله تخریب شوې، عامه ملکیتونه د اشخاصو له لوري غصب او د لویو لارو او سړکونو حریمونه کوچني شوي دي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د معیاري ترانسپورټي زېربنا ارزښت ته په اشارې سره وویل، په ترانسپورټي او مواصلاتي زېربناوو کې پانګونه، د غصب شویو عامه ملکیتونو بېرته استرداد، د سړکونو او لارو د اصلي حریم تشخیصول او رغول د افغانستان اسلامي امارت یو له اساسي او مهمو ملي موخو څخه ګڼل کېږي. په همدې موخه دا دی د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل عملي چارې پیلېږي، چې ۴۲ مهم تاسیسات پکې جوړېږي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، اسلامي امارت د عصر اړتیاوو او امکاناتو ته په کتو نه یوازې د ترانسپورټي زېربناوو د رغولو او پراخولو په برخه کې کلک هوډ لري، بلکې د نورو بنسټیزو ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو په برخه کې هم خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو هېوادوالو ته د دې مهمې پروژې د پیل مبارکي وویله او له قراردادي شرکت څخه یې وغوښتل چې په ښه کیفیت یې چارې په ټاکلي وخت کې بشپړې کړي.

د یادونې وړ ده چې د کابل ولایت د ارغندۍ ترانسپورټي ترمینل په شاوخوا ۹۰۰ جریبه ځمکه کې د یو میلیارد او ۲۸۵ میلیونو افغانیو په لګښت جوړېږي، چې چارې به یې د خصوصي سکتور له لوري په دوو کلونو کې بشپړې شي. د دغه ترمینل په جوړېدو سره به ترانسپورټي اسانتیاوې زیاتې شي، د انتقال اړوند چارو په چټکتیا او غوره تنظیم کې به مهم رول ولوبوي، ترانسپورټي لګښتونه او ترافیکي ستونزې به کمې او ډېرو هېوادوالو ته به د کار زمینه هم برابره شي.#

## آغاز کار ساخت نخستین ترمینل زمینی در فیض‌آباد...

...عبدالسلام حیدری معین وزارت ترانسپورت و هوانوردی می‌گوید که ساخت این ترمینل در توسعه حمل‌ونقل زمینی و تسهیل رفت‌وآمد مردم در بدخشان نقش مؤثری خواهد داشت.

شماری از باشندگان بدخشان از ساخت این ترمینل استقبال کرده و آن را گامی مهم در کاهش ازدحام ترافیکی در مرکز این ولایت می‌دانند.

گفتنی‌ست که وزارت ترانسپورت و هوانوردی اخیراً، پروژه ساخت ترمینل‌های زمینی را در چندین ولایت دیگر کشور نیز آغاز کرده است.#

## گفت‌وگوی سرپرست وزارت امور خارجه با سفیر جاپان درباره سرمایه‌گذاری و مبارزه با مواد مخدر

سرپرست وزارت امور خارجه در دیدار با سفیر جاپان مقیم کابل، تحولات اخیر در روابط دو کشور، سرمایه‌گذاری‌های جاپان در افغانستان، مبارزه با مواد مخدر و روند مذاکرات دوحه را بررسی کردند. محترم مولوی امیرخان متقی با تأکید بر پیشرفت‌های دیپلوماتیک اخیر گفت که تعاملات افغانستان با کشورهای منطقه و جهان در مسیر مطلوبی قرار دارد و امارت اسلامی با سیاست متوازن خود آماده توسعه روابط با تمامی کشورها است. تاکایوشی کورومایا نیز با اشاره به گروه‌های کاری روند دوحه، ابراز امیدواری کرد که همکاری مشترک افغانستان و جامعه جهانی نتایج خوبی داشته باشد و همچنین مبارزه امارت اسلامی با کشت و تولید مواد مخدر را ستایش کرد. محترم متقی تأکید کرد که در حال حاضر با تقویت امنیت کلی، فرصت‌های سرمایه‌گذاری در افغانستان ایجاد شده و جاپان می‌تواند در پروژه‌های بزرگ سرمایه‌گذاری کند. دو طرف در این دیدار سفر اخیر هیات بلندپایه امارت اسلامی به جاپان را گامی سازنده برای توسعه روابط دوجانبه دانستند و گفتند که این‌گونه تعاملات باید ادامه یابد تا زمینه برای تحولات عملی در زمینه همکاری‌های دوجانبه فراهم شود.#

## په سرپل ولایت کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه



د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې نوبتي غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. دې غونډې ته په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د خصوصي سکتور له لوري د سوداګریز مارکېټ جوړولو او همدا راز په مختلفو برخو کې د پانګونې یوشمېر نورې طرحې د بحث لپاره وړاندې شوې.

له هراړخیز بحث وروسته د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې له لوري د راغلو تعدیلاتو په نظر کې نیولو سره په سرپل ولایت کې د ښاروالۍ پر ځمکه د سوداګریز مارکېټ جوړولو طرحه د تایید وړ وبلل شوه او د منظورۍ په موخه اقتصادي کمېسیون ته راجع شوه. د دې طرحې له مخې خصوصي سکتور د شاوخوا ۹٦ میلیونو افغانیو په پانګونې سره پنځه پوړیز سوداګریز مارکېټ جوړوي چې په تهکاوۍ کې به د پارکینګ په درلودو سره ۳۴۱ دوکانونه ولري. د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې په دې غونډه کې د خصوصي سکتور له لوري په کابل صنعتي پارک کې د موټر جوړونې، د هېواد د اقتصادي ودې لپاره د ستراتیژیک چوکاټ او په اسلام قلعه بندر کې د سوداګریز مارکېټ جوړولو پر طرحو هم بحث وشو. د یادو طرحو د هراړخیزې ارزونې په اړه ټاکلو شوو کمېټو ته دندې وسپارل شوې څو د طرحو له وړاندې کوونکو شرکتونو سره تخنیکي بحثونه ترسره او خپل راپورونه په ټاکلو نېټو د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته وړاندې کړي.#